ډاکتر رحمت ربی ځیرک یار ۲۰۱۸/۱۰/۱۱

# پـلورالـیزم + سیکـولـریزم = د اســلام پــرمـخـتـیـا
# د دسـتـورالـمـدیـنـي په رنـا کې

دوهـمه بـرخـه

**څلور کتابونو ته لنډه کـتـنه**

Shabbir Akhtar, The Quran and the Secular Mind. Routledge 1st ed., 2008; Bryan Winters, The Bishop, the Mulah and the Smarthphone.Resource Publication, 2015; Nader Hashemi, Islam, Secularism, and Liberal Democracy. Oxford University Press, 2012; Asma Afsaruddin, Contemporary Issues in Islam. Edinburgh University Press, 2015

پوهندوی شبیر اختـر اسلامي عنعنه او سیکولـر(خاورین)استدلال د سوله ییزې همزیستی په چوکاټ کې څېړلی دي. لیکوال هڅه کړې ده چې د لوستونکو په اندېښنه او نګرانی رڼا واچوي او له دې لارې د مسلمان او غیرمسلمان په مینځ کې بحث ته لار پرانیځي. براین وینټرز د عیسی(ع) اعمالو ته ګوته نیسي، او د محّمد(ص) خبرو/وینا ته. پوهندوی نادر هاشمي د دوه نامتو پوهاندانو ساموېل هنټینګټن او برنارد لویس استدلال ته پاتګ اچوي چې اسلام ذاتاً د ولسواکی سره غلیمي لري. د پوهاندي اسما افسرالدین کتاب د تاریخ، اسلامي څېړني او د واګ پوهنې(سیاسي علومو) د علاقمندانو لپاره ګټوردی؛ په کتاب کې د اسلام لیبرال استدلال کارول شوی دی، د ښـځو په حقوقو رڼا اچول شوې ده او اسلام په کې د دې وړ ګڼل شوی دی چې د نوي زماني د شرایطو سره اړخ ولګوي.
د یـوې ډېـرې حساسي او نـوکـي پـېچلي موضوع په اړه، ما د څـلور چـارپوهـانو نظـرونه څکه د بربښنا د څریکي په ډول وړانـدې کړل چې لـوستونکي د راتلونکي بحث لپاره چمتو او نـوکي ارام وي!

## ولـي په سیکولر(غیرديني/خاورین) دولت بحث وکړم:

په افغانستان کې د جهاد له پیل او پای (۲۵دسمبر۱۹۷۹تر ۸ اپریـل ۱۹۹۲) راهیسي، په اسلامي نړۍ کې د فونډامینټلیزم(بنسټګری) او مخ په زیاتېـدونکي فرقه ګرۍ او تعصب له امله لازمه ده چې په سیکولریزم (د دولت او دین په بیلوالي) وغږېږم. په ټولنه کې سیکولر (غیرديني) دولت په عقیدوي لحاظ ناپییلی دی. یانې د اسلام یا د کومو نورو دینونو د بیلابیلو فرقو د عبادت لپاره د آزادۍ او سـوله ییزې همزیستی پیـغام لري. نن اسلامي نړۍ د فـرقه ګرۍ او تعصب په جال کې ښکېل شـوې ده! دین یوه معنوي موسسه ده، او له دې امله باید د دولت د ستراتژیک موخو (هدفونو) لپاره استعمال نشي، که څه هم خاورین (دنیوي) سازمان دولت ته به اسـلامـي تــخلـص ورکړل شوی وي.
له اسلام نه «اسلامیزم» جوړشو، اوله اسلامیزم نه د«اسلامي ترورېزم» جـرړې راووتلې. پـه لویدیز کې داسي فکرکېږي چې «تـروریـستي اسلام» یا «اسلامي تروریزم» د اسلام نوې ښکارندې (پـدیـدې) دي. له دغه ډول ارزون نه سرۍ داسي اټکلولی شـي چي د ترهګرۍ (تروریزم) د وېـجاړولو لپاره دې اسلام له مینځه ویوړل شي، یادې مسلمانان عیسوي دین ته واړول شي!؟ خو که دغه طریقې مناسبې یا اغـیزمني نه وي، نو بیا دربمه لار داده چې د معتدلو مسلمانانو سره دې تـلـوالـه جوړه شي.
کوټلي پوښتنه داده چې مسلمانان ولي اورپکي(افراطي) شول؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په درې دليلونو:

۱ـ صليبي جنګونو د مسلمانانو په ضد په ۱۰۹۵م کې پيل شول او په اروپا کې د جرمن مولوي مارتين لوتر(۱۴۸۳ تر ۱۵۴۶ز) د ديني اصلاحاتو د رامينځته کېدلو په مهال يې دتعصب لمبه غلې شوه. پاپ به اروپايان هڅول چې په صليبي جنګونو کې به هم غنايم لاسته راوړي، هم به له ګناهونو پاک شي، او هم به جنت ته لاړشي.

۲ـ لويديز امپرياليزم (برتانيې او فرانسې) د لومړۍ نړيوالې جګړې په مهال په ۱۹۱۶کې، د عثماني دولت په حاکميت کې دعربو پرته زمکه د نفوذ په ساحو ووېشله،او د خپلې خوښې کرښې يې پکې ووېستلې(لکه په افغانستان کې ډيورنډ لاين). په دغه امپرياليستي ويش کې د عربانو ملت سازۍ ته پاملرنه نــه وه شوې او په دې ډول يې د عربانو نيشنـليزم ته پاتک واچاوه. نـړدې يونيم کال وروسته د ۱۹۱۷ د نومبر په ۲ نېټه، د برتانيې د بهرنيو چارو وزير آرتر جيمس بلفور په فلسطين کې «د يــهودانو د ملي دولت» موضوع راولاړه کړه . د ۱۹۴۸ د مې په ۱۴ نېټه د لويديز په ملاتړ د اسرائيلو دولت رامينځته شو او د امريکې ولسمشر هيري س. ټرومـن (۱۹۴۵تر ۱۹۵۳) په ګړندي ډول په رسميت وپېـژانــد. خو فــلسطـينيان لا تر دې ګړۍ له خپل دولتي نظام نه محروم پاتي دي او د اسرائيلو د اپارتايد سره مخامخ دي. د فلسطينيانو د کرغېړنې وضعې د پوهېدلو لپاره ولئ:

Jimmy Carter, Palestine: Peace Not Apartheid. Reprinted ( Simon & Schuster, September 2007); Rashid Khalidi, The Iron cage: The Story of the Palestinian Struggle for Statehood. (Beacon Press 2006); James Petras, The Power of Israel in the United States. (Clarity Press, Inc., 2006); Norman G. Finkelstein, Beyond Chutzpah: On the Misuse of Anti-Semitism and the Abuse of History. University of California Press, August 2005; Alan M. Dershowitz, Chutzpah*. Little Brown and Company,1991

*) «چوتڅپا» جسارت اوافراط ته وايي. د امريکې په نامتو هـارورډ پوهنتون کې د نامتو حـقوقپوه پوهاند الان م. درشويتـځ په کتاب د کره کتنې(نقد)، اود څـېـړنـغـلا(ادبي غلا) د دعوې د ارت بحث لپاره ولولئ:

“Scholar [Norman G.] Finkelstein calls Professor Alan Dershowitz’s new Book on Israel a <hoax>”, Democracynow.org (24 /09/2003)[28 June 2017]; John Wiener, “Giving Chutzpah New Meaning: Alan Dershowitz is on the defensive over his research on the Israeli-Palestinian conflict,” The Nation, June 23, 2005



فـبروري ۱۹۸۳:د امريکې ولسمشر رانالــد ريـګن(۱۹۸۱تر۱۹۸۹) په سپيـــنه ماڼۍ کې افغان مجاهدين داسې معرفي کـړل:«دا ښاغلي د امــريکې د موسسو پــلارونـو اخــلاقـــي معـادل دي.»

په ۱۸۹۳کې انګريزانو په اميرعبدالرحمن خان د ډيورند رټلی استعماري تړون وروتپلو. خو نږدې ۴ کالونه وروسته په ۱۸۹۷ کې د وزيرستان له مده خېلو نه د ډېورند تړون په ضد د وزيرستان د ولس له خوا وسله وال


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

پاڅون پیل شو. دغه ولسي پاڅون له وزیرستان نه پکتیا، ځمکنیو، اپریدو، مومندو، ساپیو، د شیخ بابا شینوارو، باجوړ او چترال ته وغځید او یو کال اوږد شو. د دغه اوږد ولسي پاڅون له امله، انګریزانو د لر افغانستان (پښتونخوا) اداري سیمې ته د بې مسما اسم (شمال-مغربي سرحدي صوبې) هویت ورکړ. انګریزانودغه بې هویته نوم د پښتنود بېـــهویت کولو لپاره غوره کړی و. ۱۰۹ کالونه وروسته د ۲۰۱۰ په اپرېل کې، دغه بې هویته نوم په خیبر- پښتونخوا واوښت.

۳ـ د شوروي اتحاد د هغه مهال مشر سکریټري جنرَل لئونید بریژنف (۱۹۶۴تر۱۹۸۲واکمن) په دې باور و چې یو ځل یو هېواد سوشلیستي شو، بیا بل نظام ته نشي ورتللی(دغه دریځ په «بریژنیف ډاکترین» شهرت لاره). د ۱۹۷۹ د دسمبرپه وروستنۍ اونۍ کې پخواني شوري اتحاد په افغانستان یرغل وکړ. په دغه یرغل سره افغانستان له حائل(حفاظ، ډال) حالت نه راووت. د دغه یرغـل په وړانــدې، عموماً د امریکې دریځ دا و چې کین – مترقي نظامونه تـحدید کړي. د خپل دغه دریځ په رڼا کې،امریکې دعرب او عجم ټلواله جوړه کړه. د اسلام اوعیسویت په دغه ټلواله کې د افراطي اسلام ملاتړته اړتیا وه.

## د مسلمـان سـر د خــبېټـې لانـدې شـوی دی

د افغانستان د پخواني کډوال پاچا محمد ظاهر شاه(۱۹۱۴تر۲۰۰۷ز) غټ مشاور اودیني عالم استاد عبدالستار سیرت به د ۲۰۰۱پورې ویل چې په نړۍ کې د«جهاد» او«مجاهد» الفاظو نوم وپستلی دی او په نورو (غـربي) ژبو کې یې رواج میندلی دی! خو د ۲۰۰۱په سپتمبر کې چې په نیویارک ښار کې د امریکې دنګې ماڼۍ ړنګې شوې او په واشنګټن ډي. سي. کې د دفاع وزارت ټکنی شو، د جهاد او مجاهد نومونه وچ شول او ځــای یـې پـه رسنیو کې اسـلامي ټـروریـزم او اسلامي ټرورستانو ونیو. د امریکې له پخوانو اسلامي ټلوالانو نه تالي ښتي، او له نورو نه یې چې د «اسلامیستانیــانو» ټاپه یې خوړلې وه، پاڅونـوالان جـوړشول. زه د ایراني منوراکبر ګنجي په درد پوهېـږم چې مسلمانان باید خپل دین د سیکولریزم سره د «سیکـولــر اسلام» په شکل پوخلا کړي او خپل سپېـڅلی کتاب بنسټګرانو(آیزیس، القاعدې، بوکوحرم، او په سوریه کې د النصرجبهې) او نورو تورتــمګرانو ته ډالۍ نـکړي.
تش پولېـمیک(جراوبحث) اغیزمن نه دی. د اسلام په نوم سوپرسټیشن(خرافات) ګټه نلري. عملي انساني ورورولي، ټولنیز مساوات د دیــنوال او غیردینـوال لپاره حتمي دي. که څه هم اسلام تقریبا د ۱۲ پېړیو په اوږدو کې د پخوانۍ متمدنې نړۍ غټه برخه په ولکه کې لــرله، خود مسلمانانو فــکري غفلت د هغوی تمدني پرمختګ ته پاټک واچاوه. د هغې زمانې د ټکنالوجۍ اوفتوحاتو په سویه، د مسلمانانو د ځانلـوړتیا شعور(سوپېریاریټي کامپلېکس) او غـرور هغوی دېته وهڅول چې له لاسته راوړل شوو غنیمتونو نه خوند واخلي، او د دغسې مجلل ژوند په اوږدو کې علم او څېړنه د تاریخ کندې ته واچوي! په معنوي لحاظ هغوی په دې بسنه وکړه چې سپېڅلی قرآن ولولي، بې له دې چې تحلیل یې کړي او نتیجه ترې راوباسـي. په دغه عملیه کې د مسلمان سر د خبېټې لانــدې شو، شعور شـډل شو، د ځلوربښځتوب د مشروعیت له امله کورني نفاق زور ومیند، او زمکه د ژوند د تامین یواځینۍ وسیله شــوه. په دغــه ډول وروسته پاتي کوچیاني - بزګري چاپېــریال کې عِلـم اودعِـلم استعمال(ټکنالوجۍ) تــه پاټک اچول شوی و او ځوبنځتیا په زرپ کې وه.
په ختېه پښـتنــه عالیه راوي اکبر د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي په دریم ټولګي کې وه چې د پلار له خوا پرې د یوه بې سواده خو پیسوال زاړه سړي سره واده تحمیل شو. دواړه امریکې ته کډوال شول او په ویرجینیا ایالت کې میشت شول. عالیې د خپل کتاب د ننتوځ (اِینټروډکشن) په پای کې د نـړۍ د نامتو ساینس پوه اَلبرټ آینـشـتاین(۱۸۷۹تر ۱۹۵۵) دا اقتباس خوندي کړی دی:«نړۍ د ژوند لپاره یو خطرناک ځای دی؛ نه له دې امله چې خلک شریـر دي، بلکې د هغو خلکو له امله چې په دغه اړه هېـڅ نـکوي.» عالیه راوي اکبر زیاتوي چې د شمالي ټلوالې مشر احمدشاه مسعود دشوروېانو/روسانو سره همکاري لرله. لیکوالې په افغان طالبانو هم ټونګه کړې ده: طالبان د پښتونوالې له امله بن لادن په افغانستان کې ساتلی و. خو طالبانو په بله موضوع کې هغې(راوي اکبر) ته ویلي وو چې هغوی هـرڅه د اسلام له مخې کوي! مخ ۱۶۵. ما د عالیه راوي اکبر د کتاب ځینې برخې په اِینـټرنېټ کې ولوستلې:

Alia Rawi Akbar, Crisis Confronting Afghan Women: Under the Shadow of Terror. Dog Ear Publishing/USA, 2010 books.google.com [July 1, 2017.]

**ټکنالوجي جغرافیه له مینځـه وړي خو فکرونه نــږدې کوي**
په علم او ټکنالوجۍ کې د ګړندۍ بدلېدونکې نړۍ پیچلتیا اوعقلي پرمختګ انسانان دېــته اړکوي چې ځانونه په پېـچلي فکر او څرګند دریځ سمبال کړي! د چاپخانې،رادیو،ټلویزیون او برېښناجال(اِینترنېټ) د استعمال له لارې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ديني خدماتو کې بدلون راځي. د آيفون له لارې مولويان کولی شي چې خپلې ويناګانې د خپلې حلقې غړو ته وړاندې کړي. لاسي آيفون د مولوي، امام، او د يهودي، بوديست او عيسوي مولوي ځای نيسي. په بله وينا،جغرافيه له مينځه ځي. ښايي بريښناييز حج، او په غټه مکه، درنه مدينه اوبيت المقدس کې برېښنايز لمونځ هم ممکن شي!؟ دا هم نرى امکان لري چې آنلاين جنازې به رواج شي. په بله وينا،د عِلم استعمال(ټکنالوجي) زموږ په مَعنوي - ديني ژوند اغيزلرلی شي. د پرلپسې ګړندي بدلون په مهال، مشکله ده چې انسان او د ژوند ډکون(محتوا) يې ځای په ځای ثابت پاتی شي. اوس په «سمارټ فون» کې نړۍ پرته ده. څېړونکې براين وينټرز کاږي چې د عيسى(ع) اعمال مهم وو او د محّمد(ص) وينا! خو هيچا په ليکوال وينټرز پسې د تکفيرچغه نه ده وېستلې.

Bryan Winters, The Bishop, The Mullah, and the Smartphone: The Journey of the Two Religions into the Digital Age. Resource Publications (May 2015)

عيسوي دين د اسلام له دين نه ۶۲۱ کالونه مشر دی. عيسويت د ۲ ساينس پوهانو کوپرنيکس (۱۴۷۳تر۱۵۴۳) او ګاليليو(۱۵۶۴تر۱۶۴۲) سره په ټکر کې و. ټکنالوجي بايد د انسانانو کار آسان کړي. خو له بدې مرغې وينو چې د پرمختللې ټکنالوجۍ په مهال په اسلامي نړۍ باندې د ديني فونډامينټاليزم وزرې خپرې شوې دي. آيا ټکنالوژي ديني عقيده بې اتباره کوي؟ آيا ټکنالوژي د دين ځای نيسي؟ ښايي دغه ډول وېره به د موډرنيزم او ديني فونډامينټاليزم په مينځ کې ټکر راولاړوي؟
کله چې انسانان له خپل تېر وخت نه ځانونه لرې وساتي، امکان لري چې د خالق/هسک څښتن سره به يې علاقه ټکنۍ شي؟ خو که خلک غواړي چې په هسک څښتن عقيده ولري، بايد ټکنالوژي وېجاړه کړي!؟ آيا اوسنی انسان په ډاګه ويلی شي چې دين د پرمختګ غليم دی؟ ايا زما په کړکيچو(ماته ګوډه) عقيده، دا به روغه وي چې انسان بايد د خپلې زمانې انسان وي؟ نن جومات، کليسا او يا کوم بل عبادتځای له ښار او کلي نه بهر په غيرجسمي ډول په آيپاد او آيفون کې پراته دي. خو هغه څه چې اوس په نړۍ کې د اُورپکو(افراطيانو) له خوا د هسک څښتن په نوم اجرا کېږي، خلک له هسک څښتن نه لرې کوي.

Chris Stedman, Faitheist: How an Atheist Found Common Ground with Religion. Beacon Press: October 2013.

## د ۳ دينونو د تاريخ لپاره ولولۍ د پخوانۍ راهبې کتاب

Karen Armstrong, A History of God from Abraham to the Present: 4,000-year Quest for God. Ballantine Books, 1994

عيسى(ع) د موجود او ډېرقوي دولت سره په ټکرکې و،او د دې وس يې نه لاره چې دولت جوړ کړي او ويې چلوي. خو د هغه معنوي او اخلاقي ويناګانو او سوله ييزواعمالود خلکو فکرونه روښانه کړل او د رومن امپراتورۍ ماڼۍ يې ولړزوله. د نوي انجيل له مخې د اسرائيلو ديني مشران د عيسى(ع) د وژنې مسئول وو(نوی انجيل: ماتيو۲۶: ۳تر ۴). خو حضرت محّمد(ص:۵۷۰تر۶۳۲م) نه يواځې د هسک څښتن پيغام رسوونکی و، بلکې دولت جوړوونکې، واکمن او سياستپوه هم و.
د سيکولريزم ګټه دا ده چې د انسان فکر او ذهن ته پاټک نه اچوي، بلکې اجازه ورکوي چې د کومې موضوع په اړه څېړنه وکړي. انګريزانو په ۱۹۴۷ کې پاکستان د کُمپرادور(دلال) اسلامي دولت په شکل خلق کړ چې د افغانستان او پخواني شوروي، کمونيستي نظام په وړاندې اسلامي مورچل ونيسي.
نن په پاکستان کې مسلمان او غير مسلمان سيکولر دولت غواړي: غيرمسلمان پاکستانيان(عيسويان)سيکولر/غيرديني دولت غواړي ځکه چې تور پټکيزه، سور پټکيزه، شين پټکيزه ...او زيړپټکيزه پاکستاني طالبان يې په عذابوي او وژني يې. پخپله زېږېدلي مسلمانان او غير ديني/سيکولر شوي پاکستانيان کله ناکله د پخواني متحد هند (اِينډيا) خوبونه ويني. د اِينډيا نوم له «اِينډوس» (اباسين) نه اخيستل شوی دی. يانې د هند او افغانستان طبيعي/اصلي سياسي پوله اباسين دی! اباسين دی مينځګړی...افغان دېخوا اِينډيا اخوا!
په برما کې مسلمانان يو کوچنی اقليت دی چې «روهينګيا»نوميږي. خو بوديست مولويان يې د کلک تعقيب لاندې نيسي. په افغانستان کې د مجاهدينو په راتګ سره هم په افغان سيکانو او هندوانو ظلم شوی و. په سيکولريزم کې نه يواځې دا چې ديني يا مذهبي لړيان د ازاد عبادت حق لري، بلکې سيکولر(غيرديني) هېوادونه خپلو خلکو ته اجازه ورکوي چې دين ولري يا يې ونلري. دغه شان په غير ديني دولت کې داسې دين مجاز نه دی چې امتياز ولري او/يا نور دينونه له دغه امتياز نه محروم وساتي. په غير ديني دولت کې د يوه دين مراسم په بل دين نشي تطبيق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کېدلی. لکه چي وينو، سيکولريزم بايد د دين او دولت تر منځ د ترون مقام ولري او هر اړخ بايد د بل اړخ بريدونه په رسميت وپېژني.

Secularism.org.uk

**لاندي دوه کتابونه هم د سيکولريزم او سلفي جهاديزم د بحث لپاره گټوردي:**

Loren D. Lybarger, Identity & Religion in Palestine: The Struggle between Islamism and Secularism in the Occupied Territories (Princeton Studies in Muslim Politics) August 2012; Shiraz Maher, Salafi-Jihadism: The History of an Idea. Paperback (Penguin, 2017.(

نور بيا

ډاکتر رحمت ربی ځيرک يار
Dr. rer. pol. Rahmat Rabi Zirakyar, Califorina, USA
zirakyar1234@yahoo.com

نېټه: ۱۶ سپتمبر ۲۰۱۸/ ۲۵ وری ۵/۱۳۹۷محرم ۱۴۴۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ